محمد نعمان دوست
۲۰۲۱/۱۲/۱۸

# د کاکاخیل جانشین

ور، پرانیستل شو او بیا د فزیکي جوړښت له مخې دوه متضادې څېرې راننوتې. یو د پوخ عمر ښځبنتن، چاغ او په ونه ټیټ او بل نری، دنګ ځوان.
د مشر څیره راته اشنا وبرېښېده. د ذهن ارشیف کې مې لټون پیل کړ او بیا دې پایلې ته ورسیدم چې دا سړی مې د ټلویزیون پر سکرین لیدلی دی. هم په پښتو خپرونو کې او هم په اردو خپرونو کې.
مشر سړی پر څوکۍ کیناست. پراخه او غوړیدلي ټنډه یې وه. لنډه او مړه ږیره یې له پلن مخه را تاوه وه.
په اوله کې د پوهنتون درسونه راته زړه تنګوونکي وو. موږ د لیسې په نیم ساعته درس اموخته شوي وو. هغه نیم ساعت کې به هم پنځه یا لس دقیقې ښوونکی ناوخته راغی او بیا به د سترګو په رپ کې ساعت تیر شو؛ خو د پوهنتون له درسي ساعته مو خدای ساته؛ پوره نوې دقیقې او استادان هم لکه په حساسه سیمه کې چې پیره داران بدلیږي، فیکس په خپل وخت راتلل او په خپل وخت تلل.
دې سړي چې درس شروع کړ؛ نو دا نوې دقیقې داسې ختمې شوې لکه د لیسې درسي ساعت چې وي.لکه په یوه پاک نفسه او خواږه غږ لرونکي قاري پسې چې تراویح کوې. استاد درس راکاوه او له هغه سره راغلی دنګ او نری ځوان دیواله ته تکیه له چپترونو او کاغذونو سره ولاړ و. درس خلاص شو، سپین ږیري استاد غږ کړ: سالک صیب، ته خو به څه ویل نلرې؟ هغه موسک شو او بیا دواړه له ټولګي ووتل.
دا مشر سړی پوهاند سید تقویم الحق کاکاخیل و ( مغفرت یې نصیب شه). هغه له دیوبنده فارغ و او په پښتو، عربي، اردو، فارسي او انګریزي ادب کې یې هم پراخه مطالعه درلوده.خوش مزاجه او متواضع انسان و. یوه ورځ مې ورته ویل: استاده! له دیوبنده ملایان فارغیږي او تاسو ادیب شوئ؟ هغه موسک شو او ویل یې: زما خیال دا و چې که څومره غټ مولا جوړ شم، نو دومره ستر ملایان تیر شوي چې ما به هدو څوک پیژني نه؛ ما ویل راځه پښتو ادب ته مخه کړه، څو کسانو کې خو به یاد شې!
بله ورځ دیپارتمنټ ته لاړم. د کاکاخیل صیب د میز پر سر مونوګراف ایښی و. پاڼې یې اړولې، څه یې پرې لیکل؛ خو له لیکلو مخکې یې وویل: سالک لیونی دی، دا به یې د ماسترۍ دورې ته ساتلی و. دا خو له لیسانسه پورته دی. سالک صیب خپل مونوګراف د (حمزه شاعرانه تعلی) تر سرلیک لاندې کښلی و.
سالک صیب، له موږ سره په یوه لیلیه کې و؛ خو بلاک او خونه یې جلا وه. زموږ لیلیه د نظامي مرکز په څیر وه. اوږده اوږده بلاکونه یې لرل.
هغه وخت مې د پیښور راډیو ماسپښینی پښتو پروګرام ډیر خوښیده. د خیال محمد، هدایت الله، کشور سلطان، احمد خان او... په غږونو به یې ښایسته سندرې او لوړ کلامونه نشرول. خو هغه مهال د سندرو اوریدل د پیل زړه غوښته. محصلینو به د لیلیې عمومي دروازې مخې ته د بي بي سي ماښامنی خبري سرویس په ګډه اوریده. یو غټ زوړ ټایپ به په پر کوچنې میز ایښی و او د هماغه راډیو ته به را ټول وو. د کابل د خبرونو سرټکي به په راکټونو، میزایلو او بمبارونو پیل کیدل، کله به خبریال له سیمې خبر خپور کړی و او د ټیپانو چیغو به زړونه لړزول. دا جګړې خپلمنځي وې د (اعلای کلمة الله) لپاره نه وې؛ خو د همدې شعار د علمبردارانو تر منځ جاري وې. راډیو ته ناست شخص به د خبري سرویس له پیل مخکې لنډه نغمه هم خاموشه کړه او نه یې غوښتل چې ځان او موږ د موسیقۍ په اوریدو ګناه ګار کړي.
خو په همداسې ضیق ماحول کې سالک له داسې مستانه ملګرو سره په خونه کې یو ځای و چې کله ناکله به پکې د لیلیې کاسې ترنګیدلې او غزلې به ورسره ویل کیدې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

یوه ورځ یي اتاق ته لاړم؛ د چپرکټ خواته یي کتابونه انبار وو؛ خو یو هم پکي د پوهنتون تدریسي کتاب او چپتر نه و. د تصوف، فلسفي او ادبیاتو په اړه اردو کتابونه وو، فارسي کتابونه وو او پښتو کتابونه وو. د ځوان سالک دي پراخي مطالعي خو موږ یوه ورځ د پیغور توپ ته هم برابر کړو:
د تصوف امتحان و. موږ د کتابونو ملایان وو. څه چي راته تدریس کېدل هماغه مو ټکي په ټکي زده کول. کاکاخیل صیب داسي سوالونه راوړي چي یو یي هم د هغه په تدریسي چپتر کي شامل نه و، خو تشریح کړي یي وو. موږ شور جوړ کړ، استاد سوالونه بدل کړل او بیا یي ویل: تمبلانو! د سالک دي صنف ته مي هم همدقه شان سوالونه راوړي وو، هغه ټول حل کړل. یوازې د پوهنتون درسونو ته کار مه وایئ ښه، سترګي وغړوئ.
زموږ پوهنتون ( دعوت او جهاد) ننګرهار ته را انتقالیده. هغه وخت د تورخم – جلال اباد لاره خامه او کندو کپر وه. کندوکپر به ولي نه وه، په هر لویشت یي راکټ خوله لګولي وه او په هر متر کي ماین منفجر شوی و. فیصله داسي وه چي استادان به په نوبت له پیښوره تدریس ته راځي. کاکا خیل صیب عمر خوړلی او کمزوری و. ترې و مي وپوښتل: استاده، لارې خرابي دي، ستا راتګ به څنګه شي؟ هغه موسک شو او بیا یي ویل: زما راتګ ته هېڅ حاجت نشته، زما چي څه زده وو هغه مي ټول سالک ته ښیلي ( ښودلي) دي.
موږ د ننګرهار ځلورم فارم ته را وکوچیدو. هغه ځای کي میشت شوو چي د ظاهر شاه، چي موږ ته د هجرت په مهال کي ستر خاین معرفي شوی و، په وخت کي پکي فارمي غواګاني اوسیدې. د ظاهر شاه مخالفینو موږ لسیزې وروسته، په مکاني لحاظ هغه ځای ته ورسولو چي هغه ورته څاروي رسولي وو.
هغه مهال مي رحمان بابا، علي خان بابا او... ډیر لوسته ،د همدوی تر اغیز لاندي مي یو شعر ولیکه، شعر څه و، بس ګډوډې کرښي وې. غالبا مطلع یي داسي وه: خدای دي نه کاندي اسیر څوک د هوا – د هوا اسارت سخت دی تر بلا...
شعر مي سالک صیب ته وښود، په خوشحالی یي خپل ملګري او ټولګیوال استاد ابراهیم همکار ته غږ کړ او بیا دواړو دومره تشویق کړم لکه شعر چي مي سراپا له تغزله ډک وي.
ډیر وخت وروسته مي د استاد سالک غږ له بي بي سي اوریده، هغه هلته د خپل فکر او هنر په ګوتو ( پیلوځی) بل ساته او د اهل ذوقو سترګي یي روښانولي.
سالک، شاعر دی. سالک څیړونکی دی. سالک ژورنالیست دی، سالک کره کتونکی دی، سالک لیکوال دی او سالک یوه غوره او خوږ انسان دی.
کله چي څوک د (طاووس ښکه)، (سندریزې چینې)، (غمې په کچکول کې)او (توري ستوري) لولي نو فکر کوي چي سالک یوازې د شاعرۍ او بیا خاصتا د غزل لپاره پیدا شوی. سالک ټول عمر یوازې شاعرۍ ته ځانګړی کړی خو کله چي (منشور)،( له څاڅکي تر سیپۍ) لولي نو وایي چي نه، سالک نقاد پیدا شوی او یوازې ادبي کره کتني ته یي کار ویلی.
او چي ( د اوښکو موسکا) پاڼي واړوي نو بیا وایي چي دا سړی د دې لپاره دنیا ته راغلی چي په خپلو خوږو مناجاتونو او ټوټو د رابیندرناټ ټاګور او جبران خلیل نغری تود وساتي.
استاد سالک یوازې په نثر کي پیچلي مسایل روښانه او قابل هضم نه وړاندي کوي، بلکي په شاعرۍ کي هم داسي روانه خبره کوي چي پر الفاظو او ترکیبونو هیڅ بوج نه راولي، خو په داسي انداز یي کوي لکه بې سینګاره قدرتي حسن چي انځوروي.
سالک، د ( مینې په مذهب دی) او دا انساني مینه یي دومره په رګونو کي ځغلیدلي چي ان په جګړه کي هم مینه لټوي او د مینې جګړې یي خوښیږي.
د ځلور سترګو جنګ کي باروتي نظرونه اوري
دا د مینې ارتقا ده، دغه شر زما خوښیږي
استاد سالک په دري ژبه هم شاعري کوي او ( و خیمه ما از سایه هما بود) یي چاپ شعري ټولګه ده. هغه کله ناکله انګریزي ازاد شعرونه هم لیکي او (پاتې شه باران ده) یي د چاپ شوي ناول نوم دی.
استاد سالک ته، د دوه نورو تازه چاپ شویو کتابونو ( د عشق لمر) او د (نغمو په ټال) کي مبارکي وایم او له صحته مالمال د اوږده ژوند دعا ورته کوم.

محمد نعمان دوست، جلال اباد
د سلواغي ۲۴مه، ۱۳۹۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ